فولدرمضامین چاپ شده برج اسد سال۱۳۹۵

# په اسلامی شریعت کې دښځو دمیراث موضوع ته ځغلنده کتنه

**مولوی عبدالملک (حمیدی)**

داسلام په مقدس دین کې دهر چا حقوق خوندی دی او دټولنې دهروګړی ټول و جایب حقوق او مسؤولیتونه ئی ټاکلی اوکه په ځیر اوله نعصب څخه په پاکوسترګو ورته وګورو ، و به وینوچی په الهی لوړ حکمت سره دغه مسائل په ډیر حکیمانـه او عادلانه انداز سره جوت شوی اودهر انسان دجسمانی او بیولوژیکی جوړښت مطابق ورته دندې او مسؤولیتونه سـپارل شوی .

په دغه الهی حکیمانه ارشاداتو کې زورور اوکمزوری تو پیر نلری ، نارینه او ښځینه جنس هر یوه ته مکمل حقوق ورکړل شوی . ان داچی دټولنې کمزورې ډله -_ښځو_ ته ډیر داسی څه اسلام ورکړی چی نارینهٔ و ته ئی ندی ورکړی .

په او سنی عصر کې دښځو حقوق یو دهغو موضوعاتو له جملې څخه دي چی په ډله ایيز یا انفـرادی ډول سـره دځینـو اشخاصو لخوانه ډیره یا دیرې .ددی موضوع په اړوند مختلفې دولتی او غیر دولتی ټولنې ایجاد شوي چی دښځو حقـوق بشریت ته وښیی ، حال داچی دغه ننیۍ را پیداشوی موضوع نده،داسلام په جامع دین کی چی څـومره دښـځی موضـوع داهمیت وړبلل شوی او پدی اړوند قرآنی ارشادات او نبوی زرینی ملغلری موجودی دی ، کتابونه پـری ډک دی او زمـا دبحث موضوع هم نده .

یوازې غواړم په مختصرو څرګندونوسره داثابته کړم چی داسلام مبین دین ښځه دمیراث دحق څخه بی برخې کړې نده. بلکه دنارینه په شان مساوی یا له هغه نه زیات سهم ئی ورکړی، داچی ښځه ددغوخدای ورکړو حقوقو څخه په ځینو ټولنـوکی محرومیږی ، نو دابه جفاوی چی دغه محرومیت ئې داسلام مقدس دین ته منسوب کړو ، بلکه داهغه اسلامې او بشرې ضد دودونه او رواجونه دی چی ټول ئی په له منځه وړلو کی مسؤولیت لرو.

داسلام مقدس دین له ظهور څخه مخکې دجاهلیت اونورو تورو دورونو کې ښځی هیڅ مقام او منزلت نه درلود، دجاهلیت دزمانې دعربو یوازې نارینه او دزیات عمر بچیان له پلرونو سره یوځای ؤ. نو که چیری دټیت عمر لور یازوی خپـل پلارلـه لاسه ورکاوه میراث ئې نه ورړ.

وارثان یوازې مشران زامن ؤچی ان دمړه میرمن ئې هم په میراث وړله .

خو کله چی داسلام زرینی وړانګی بشریت ته راوځلیدې ټولې دغه بدمرغۍ او ناوړه دودونه ئی له منځه یوړل،دمیراث په برخه کې چی لو مړنی آیت شریف را نازل شو ، هغه داؤ:

﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا﴾

النساء : ۷

**ژباړه**: نارینه ؤ لره شته ټاکلی برخه مقرره برخه له ازله – له ټول هغه ماله چی والدینو او خپلوانو څخه پاته شویدی اوښځو لره شته ټاکلی برخه له ټول هغه ماله چی والدینو او خپلوانو پریښبی دی ، که کم وی . وی یازیات . تاکلی شوې برخه .

دپورتنی آیت شریف دنزول سبب داؤ چی د ( اوس بن ثابت ) په نامه یوتن انصار پداسی حال کې مړشو چی دوې لونې او یوه میرمن تری پاته شول ،د ( خاله او افطه ) په نامه دده دتره زامن را غلل او دده شتمنی ئې پخپل منځ کې وویشله او دمړی اولادونو او میرمنې ته ئی هیڅ پری نښول نو دغه میرمنی رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم – ته شکایت وکړ ، او تردې دمه دمیراث په اړوندکوم حکم نه ؤ نازل شوی ، نو داؤ چی الله رب العزت پورتنی آیت شریف را نازل کړ، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه دوه تنه راوغوښتل او داتوصیه ئی ورته وکړه چی په دغه مالونو کی هیڅ حق نلری او باید لاسوهنه پکی و نکړی اوټول مال دمتوفی اولادونو او ښځی ته پر یږدی، او دمیراث نور تفاصیل الله پاک په نوروآیتونو کی بیان کړل.
همدارنګه دسعدبن الربیع میرمن رسول الله ـ (ص) ـ ته راغله او ورته ئی وویل :
سعدبن الربیع – رضی الله عنه ـ داحد په غزاکی شهید شوی او دادوی لونې نری نه پاته دی کله چی سعد شهید شونو دانجونو تره را غی او ټول مال ئی واخیست او دوی ته ئی هیڅ هم ورنه کړل اوکله چی دوی و دیړی نو مال ته ضرورت لری ، رسول الله صلی لله علیه وسلم وفرمایل:
(( الله پاک به پدی هکله پریکړه کوی ))
هغه ؤ چی لاندی آیتونو را نازل شول:

﴿ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ ۚ فَإِن كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ ..... ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴾ النساء : ۱۲-۱۱

**ژباړه** : حکم کوی تاسی ته الله تعالی ستاسې داولاد دمیراث په هکله دنارینه برخه ددوو ښځوپه مثل ،که چیری وی دمیت اولاد ښځینه او تردوو زیاتی نودوی ته ثلثان (۳/۲) برخه ده دهغه ماله چی دمړی نه پاته شویدی اوکه چیری وی یوازی یوه لورمیت نودی ته نصف ( نیمائی ) او پلار او مور هریوه ته ئی شپږمه له دغه ماله رسیږی په هغه صورت کی که مړی نه اولاد یادزوی اولاد نارینه وی که ښځینه پاته وی ..... دارنګه دمیراث دسهامو دویشلو په هکله الهی حکم دی او الله تعالی د ډیر علم او لوړحلیم لرونکی ذات دی .کله چی دا آیتونه را نازل شول نو دنجونو سره ئې راوغوښت اوورته ئی وویل :
(( سعد لورانو ته ثالثان ( ۳/۲) او مورته ئی ثمن (اتمه) ورکړه او نور پاته مال ستابرخه ده ))
چی دعلماؤ په اند دالومړی میراث ؤ چی داسلام په مقدس دین کې ښځی ته ثابت شو.
ددغه آیت شریف په نازلیدو سره دلومړی ځل لپاره ښځو دمیراث حق ترلاسه کړچی دنارینه ؤترمنځ دوی هم دمورا وپلار څخه په پاتی شوی میراث کې برخه ولری اوشریکی وی.
دا ایت شریف رانازل شو چی دنارینه اوښځو برخه ئې مشخصه وټاکله الله پاک فرمائی:

﴿ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾ النساء: ۱۱

**ژباړه**: حکم کوی تاسی ته الله په حق دمیراث داولاد ستاسې چی مره شی، نوشته له میراثه په مثل دبرخې د دوو ښځو که دغه ایت شریف ته ځیرشو وبه گوروچی الله پاک دښځو برخه اصل گرزولی او ورپسی ئی دنارینه برخه وټاکله چی دهغو دحق په اهتما م دلالت کوی . ځکه داسې ئی ونه فرمایل:( للا نثیین مثل حظ الذکر)

داچی داسلام مقدس دین دمیراث په هکله مکمل عدالت کړی اوښځی ئی هم تر نارینه و زیاتی برخمنی کړی او داعدالت اومساوات یوازی اویوازی داسلام په احکامو کی وینو اوبس.

او داچی ځینی مغرض انسانان چی داسلام حقایقو دنه منلو عینکی ئی په سترگو کړی او داخبر زمزمه کوی چی په اسلام کی څه عدالت دی ، میراث خونارینه دوی برخی وړی اوښځی ته یوه برخه ورکوی؟

خو حقیقت دادی چی داسلام باعظمته دین دقضیو ټول اړخونه په نظرکی نیسی او دغه ټکی دبصیرت خاوندان په سمه توگه درک کولی شی. خوځینی تور زړی انسانان پدی حکمتونو نه پوهیږی، پداسی حال کې چې دښځو برخه همدا اوس هم زیاته ده ، ځکه دلورنفقه ، جامې اونو رې اړتیا وی ئی دپلار په غاړه دی اوکله چی دغه نجلۍ واده شی ،دکورنۍ دټولو مسؤلیتونو څخه وزگاره کیږی ددې سره سره چی دنکاح مهرهم ددې حق دی اوهیڅ ډول مالی مسؤلیت نلری ، حال داچی دکورنۍ د ټولو اقتصادی چارو اومهر ورکولو مسؤولیت دنارینه په غاړه دی،چی دهغه په میراث کی دنیمی برخی زیاتوالی ددغه مسؤولیت جبیره نشی کولی، اوبل داچی ښځه تل دنارینه نیمائی په میراث نه وړی بلکه ډیر داسې حالات شته چې له نارینه څخه زیاته برخه اخلی.

بل مهم ټکې دادی چی دښځی اونارینه وحقونو دبرابرۍ موضوع خاص بیولوژیکی عوامل او ځانگړتیاوی لری اومختلف طبیعتونه او امکانات دی چی یوبابل نشی کولی ، ځان دبل دځان نکړو حقونوړ وبولی، خوهغه څه چی ددواړو ترمنځ باید وجود ونلری هغه – تبعیض – دی نه توپیر. تبعیض دادی چی ددووشیانو ترمنځ له پوره مساوی امکاناتو سره سره، توپیرامنځ ته شی اوقران عظیم دارنگه تبعیض نه نارینه اونه هم دښځی په حق کی قبلوی الله جلت عظمته دښځی اونارینه دبرخی په هکله فرمائی

﴿ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبُوا۟ ۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبْنَ ۚ..... ﴾ النساء: ۳۲

**ژباړه**: شته نارینه ولره نصیب ( برخه مقرره له ازله) په سبب دهغه عمل چی کړی وی دوی اوسوال کوی تاسی له الله نه له فضل اومهربانۍ دده، بیشکه چی الله په هرشی ښه عالم ډیردانادی.

اوهمدارنگه فرمائی:

﴿ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَـٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ غافر: ۴۰

**ژباړه**:اوهرڅوک چی نیک کاروکړی که نارینه دی یاښځینه- پداسی حال کی چی مومن وی، نودغه صالحان مؤمنان به جنت ته داخل شی اوهلته به بی حسابه روزی ورکول کیږی.

دمیراث ایت شریف یوحکمت اولطافت داؤ چی لومړی ئی دنارینه دحق یادونه وکړه خوپه اصل کې لومړی د ښځی په حق اعتراف دی، ځکه په مبارکه ایت کی ئی داسې ونه فرمایل: ای ښځو ستاسې میراث دنارینه ؤنیم میراث دی. دوه برابره ده.
دغه بلیغ تعبیرپه حقیقت کې دارث په اندازه کی دښځی حق ثابتوی، هغه داچی دنارینه دمیراث داندازی دټاکولپاره لومړی دښځی په حق اعتراف وشو.
دایت دمفادله مخې لومړی باید دښځی برخه مشخصه او ورکړل شی، وروسته دنارینه برخه پخپله معلومیږی.
که چیری ووایوچی ښځی ته دلته کمه برخه ورکړل شوی اودنارینه په پرتله نیمائی ده ! خوګوروچی حکیم خدای (ج) ښځی ته داکمبودپه بل ځای کی ورکړی دی او بالمقابل نارینه ئی پداسی کارونومکلف ګرزولی چی ښځی ئی ندی مکلفی کړی.

**دنارینه ومسئوولیتونه:**

١- دکورنۍ دلګښت ورکړه، یعنی نارینه مکلف دی چی دخپلی میرمنی، اولادونو، موراوپلارلپاره دکورنۍ لګښت مصارف په غاړه ولری، خوښځه پدی برخه کی مسؤولیت نلری اونارینه دلګښت تامینولوته ژمن دی اوداړتیاپه صورت کی باید ددوی اړتیاوی ترسره کړی.

٢- **ددیت ورکړه:**

کله چې اولاد – لوریازوی – دیوه جرمی کاردترسره کولو په سبب ددیت په ورکولو مجبورشی نودکورنیو نارینه ددغې جریمی په ورکولو باندی مسؤولیت لری نه ښځی.

٣- **دمهرورکړه:**

دروبیارۍ او واده په وخت کی نارینه ښځی ته مهرورکوی، نه داچی مهرورکړه دښځی په غاړه وی

٤- نارینه مسؤولیت لری کله چی ښځه دکور کارونوپه اجراء کولو اویاخپل ماشوم ته دشیدوپه ورکولوسره اجوره وغواړی، باید اجوره ئی ورکړی، پداسی حال کی چی ښځه دنارینه دکارونو په بدل کی داجوری په ورکولو باندی مکلف نده.

که چیری ځیرشو دابه راته جوته شی چی ښځی پخپله په میراث کی هم له نارینه څخه کمه برخه نه اخلۍ ځکه:
*ښځه دمیره په څیر دمیراث له ټولو طبقوسره، حقوقی حضورلری او دمیراث دطبقه بندۍ په ټولوحالاتو اومراتبو کی دمړشوی نارینه ښځه ، دمړی شوي ښځې دمیړه په څیرحضورلری.
*ځینی وختونه دښځی برخه دنارینه له برخی سره برابره وی اوځینی حالات له هغه څخه کمه اوځینی وخت دنارینه له برخی څخه زیاته وی اوداسی نده چی دائماً به دښځی برخه دنارینه له برخی څخه کمه وی .

**هغه حالات چی نارینه اوښځه یوشان میراث وړی:**

**1**- دمړی پلار اومور،که چیری له مړی څخه اولاد پاته وی هریوله والدینوڅخه سدس( شپږمه) برخه وړی او داولاد له مال څخه دنوموړی فرض په باب دپلاربرخه، دمورله برخی څخه زیاته نده.

**۲**- مورنی کلاله ، یعنی دمړی مورنی ورور اوخورچې په برابره توګه میراث وړی . څرنګه چې دمړی مورنۍ دمړی دمورنی وروردبرخې برابر میراث وړی،هغه ایتونه ددغو دواړو حکمونودلیل دی.

**هغه موادیث چې ښځه له نارینه څخه کمه برخه اخلی:**

ځینی داسی حالات پیښیږی چې ښځه له نارینه څخه کم میراث وړی ، لکه لورچې دزوی په پرتله کم میراث وړی، دپلرنۍ اومورنۍ کلالی په څیریعنی دمړی سکنی ور ور اوسکنی خور،چې پدی صورت کی ښځه هم یعنی دمړی خور دنارینه دبرخی نیمائی برخه اخلی .یعنی دمړی ورور چې اولاد ونلری اوهم دلور له زوی دمیراث توپیراودنساء سورت ایت چې دسورت پای دی. دمړی دپلرنی یامورنۍ کلالی وارث توپیر ئی بیان کړی.

خوځینی وخت دمیراث نقص دپلرنۍ کلالې ونړی ته متوجه کیږی ، دغه راز پدی برخه کی دښځی ونړه خوندی ده او دنارینه برخه حذف شویده، خوهیڅکله دبرخی نقص مورنی کلالی ته نه متوجه کیږی.

**هغه مواریث چې دښځی برخه دنارینه له برخی څخه زیاته وی:**

کله چې دیوه مړی څخه یوازي پلاراولورپاته وی، نوپدی صورت کی ئی پلارته سدس ( شپږمه ) برخه او لورته ئی نصف ( نیمائی) برخه ورکول کیږی، نودلته دلوربرخه دپلار دبرخې په پرتله زیاته ده.

**منابع اوماخذ**


۱- قران کریم

۲- نبوی حدیث

۳- الاسلام وقضایا المراة المعاصرة / الهي الخولی

۴- الفقه الاسلامی وادلته / دکتوروهبه الزحیلی

۵- احکام المیراث / احمدعلی الخطیب